حنیف حیران

۲۰۲۳/۱۰/۲۶

فیصدي

(کیسه‌گی)

له دولتي روغتونه وختي راووت، بانک ته نېغ لاړ، اکاونټ ته يې معاش راغلی و. پیسې يې راواخیستې د پتلانهٔ جېب ته يې کړې.

په بېړه موټر ته وخوت، شخصي کتنځای ته لاړ. ناروغان کتار ورته انتظار وو. په بېړه، بېړه يې نسخې ورته ولیکلې. د درملو د کمپنۍ دوه درې کارکوونکي ورننوتل، يو پنډ د درملو سمپلونه يې ورکړل، له چپرکټ لاندې يې خطا کړل.

ماښام ناوخته يې د لابراتوار والا ته زنګ وواهه چې ژر شه د فیصدي پیسې ژر راوړه. شپېه وروسته د درملتون چلوونکی هم راغی د دېرشو ناروغانو اوو زره افغانۍ يې ورکړې. د لابراتوار او التراساونډ چلوونکي هم له خپلې مالیې سره حاضر شول. د درملتون چلوونکي ته يې يوه پنډه سمپل درمل ورکړل، وېل يې حساب يې کړه او سبا يې پیسې راوسپاره.

ناوخته کور ته راغی. اولادونه يې ویده وو، مېوه او لږ ډوډۍ يې وخوړه، کالي يې بدل کړل، يو پنډ پیسې يې له مېرمنې پټې په شخصي بکس کې کېښودې، ځملاست، خوب نه ورته، لټ په لټ آوښت، موبایل ته يې زنګونه راتلل، بند يې کړ، بېرته جګ شو د خوب او درد غبرګې ګولۍ يې خولې ته واچولې او وېده شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ